# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

## **د رسنیو د استقرار د غوښتنې بسته**

۱ ضمیمه: رسنیو ته لیک

۲ ضمیمه: د رسنیو د استقرار غوښتن پاڼه *

۳ ضمیمه: د رسنیو د ثبت پاڼه*

۴ ضمیمه: د آیساف سیمه اییز قوانین د رسنیو لپاره **

۵ ضمیمه: د آیساف د تاوان ورکولو موافقه او د تاوان ابراء لیک د رسنیو د استازی په واسطه **

۶ ضمیمه: د آیساف د تاوان ورکولو موافقه او د تاوان ابراء لیک د رسنی په واسطه*

۷ ضمیمه: د رسنیو د تجهیز چک لست (رهنمود)

*اړینې پاڼې چې باید ډکې او آیساف ته ورکړل شی ترڅو د رسنیو د استقرار پروسه پیل شی.

** یواځې د معلوماتو لپاره. د جګړې قوانین او د رسنیو استازی ته د تاوان ابراء لیک به شخصاً افغانستان ته د رسیدو سره سم لاس لیک شی.

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

<u>۱ ضمیمه: رسنیو ته لیک</u>

1. د رسنیو د استقرار دفتر د عامه چارو په دفتر کې (PAO) چې د آیساف په مشترکې قوماندانی (IJC) کې موقعیت لری د ټولو رسینو د ملاقات یا د استقرار د ګرویږونو لپاره د تماس یوه مرجع بلل کیږي.
2. <u>د غوښتنې پروسه.</u> د آیساف د مشترکې قوماندانی د عامه چارو دفتر دی ته ډیر اهمیت ورکوی ترڅو ډاډ تر لاسه کړی چې دا ملاقاتونه د ژورنالیستانو اړتیاوی پوره کوی. نو لدی کبله مونږ د ژورنالیستانو څخه هر څومره معلومات چې شونی وی غواړو ترڅو د یوه بریالی ملاقات لپاره آسانتیاوې برابرې کړو. په بل مخ کې د رسنیو د استقرارپاڼه داسې جوړه شوې ترڅو هغه معلومات چې مونږ اړتیا ورته لرو په لاس راوړو ترڅو ستاسې د پوښښ اړتیاوې په ښه توګه د جزوتامونو له ظرفیت سره تطبیق شی چې ستاسې د ملاقات ملاتړ وکړی. بشپړه غوښتن پاڼې باید د آیساف د مشترکې قوماندانی د رسنیو د استقرار دفتر ته یا د مناسبې ساحوي قوماندانی د استقرار دفتر ته د بریښنا لیک پته څخه په استفادې سره چې د استقرار د پاڼې په پای کې شتون لری و استوی.
3. د بشپړو غوښتن پاڼو د رسیدو سره سم د رسنیو د استقرار دفتر دغه غوښتنه د آیساف د مشترکې قوماندانی د رسنیو د کتنو / استقرار پالیسی سره په مطابقت کې او د اړوندو جزوتامونو د قابلیت پر بنسټ هم غږی کوی ترڅو د غوښتل شوی وخت پر مهال دوی ته ځای ورکړی. د رسنیو د استقرار دفتر به له اړوندو جزوتامونو سره د آیساف د ساحوی قوماندانیو په ساحه کې ترتیبات ونیسی ترڅو په ښه توګه ستاسې غوښتنه پوره کړی. وروسته لدی چې اړینه هم غږی بشپړه شوله تاسو به د منلو خبرتیا له نورو آخرنیو هدایاتو سره په لاس راوړی. **ستاسو کتنه / استقرار تر هغه وخته جواز نلری ترڅو تاسې د منلو آخرنی خبرتیا په لاس رانه وړی؛ رسنیو ته یادونه کیږی ترڅو د منلو د آخرنی خبرتیا له لاس ته راوړلو څخه د مخه د سفر ترتیبات ونه نیسی.**
4. <u>د آیساف اعتبار لیک.</u> ټولې هغه رسنی چې افغانستان ته راځی باید د آیساف له مشترکې قوماندانی یا د مناسبې ساحوی قوماندانی د رسنیو د استقرار له دفتر سره اړیکې ونیسی ترڅو ثبت او مخکې لدې نه چې د آیساف نظامی تاسیساتو ته لاړ شی د آیساف د رسنیو پیژند پاڼه په لاس راوړی. د اعتبار ورکولو پروسه په لاندنی پته کې په مفصله توګه تشریح شوې ده:

http://www.isaf.nato.int/media-visit-information.html

5. <u>تجهیزات او بیمه.</u> **ټول هغه ژورنالیستان چې کتنو ته راځی باید خپله د وسپنې خولی او زره (د مرمی ضد واسکټ) ولری.** هر هغه ژورنالیست چې افغانستان ته د دغو تجهیزاتو پرته راځی اجازه به ورنکړی شی ترڅو په افغانستان کې له آیساف څخه لیدنه وکړی. ژورنالیستانو ته په کلکه مشوره ورکول کیږي ترڅو په سخت شرایطو او د دښمن په چاپیریال کې تجربه او روزنه په لاس راوړی او تمه کیږی چې مجهز او په ښه ډول ملبس راشی.
6. ټولې رسنی چې یوې نظامی اډې ته ننوزی بیومتریک پروسس ته اړتیا لری. که چیری رسنی په سیستم کې شتون ونلری کیدای شی د دوی ثبت به یوه اوږده پروسه په بر کې ولری؛ له دې امله که چیرې د رسیدو سره سم بیومتریک پروسې ته اړتیا وی ډیر وخت په پلان کې ونیسی ترڅو د نوموړې پروسې لپاره راجستر شی.
7. ټول هغه ژورنالیستان چې د کتنې لپاره راځی باید ډاډ تر لاسه کړی چې دوی په کافی اندازه تجهیزات لری او د صحی بیمې ثبوت وړاندې کړی. آیساف بیمه نه برابروی. همدارنګه رسنی د عملیاتو سیمې ته د ننوتو په خاطر د ځان لپاره د پاسپورت او ویزی د لاس ته راوړلو مسؤلیت لری.

8. مهرباني وکړی د آیساف د مشترکي قومانداني د عامه چارو دفتر سره د هر ډول پوښتنو یا نګرانیو په هکله د رسنیو د استقرارپه هکله په لاندی پته اړیکه ونیسی: mailto:ijc.embeds@afghan.swa.army.mil

په درنښت،

//امضا//

د آیساف د رسنیو د استقراردفتر

د آیساف د مشترکي قومانداني د عامه چارو د دفتر آمر

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

۲ ضمیمه: د رسنیو د استقرار غوښتن پاڼه

| شخصی معلومات | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تخلص | | نوم | | د زیږیدلو نیټه[1] | |
| ملیت | | د پاسپورت شمیره | | د انقضا نیټه | |
| پته | | | | | |
| بریښنالیک پته | | | | | |
| د تیلیفون شمیره | | | | | |
| د مبایل شمیره[2] | | | | | |

| صحی جزییات | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ونه | | وزن | | د وینی ګروپ | | معلولیتونه[3] | |
| په خپل هاند آیا د زړه په کومه ناروغۍ اخته یی؟[4] | | | | | | | |
| آیا په کومه بله صحی ناروغۍ اخته یی؟[5] | | | | | | | |

| د آژانس مشخصات | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| نوم | | تابعیت | | د انترنتی پاڼی پته | |
| د کتن پلاوی/ رئیس نوم | | | | | |
| د کتن پلاوی/ رئیس د بریښنا لیک پته | | | | | |
| د آژانس پته | | | | | |
| د آژانس د پام وړ اوریدونکی | | | | | |
| بیوګرافی ګزارشګر[6] | | | | | |

[1] د زیږیدلو نیټه
[2] مهربانی وکړی د شونتیا په صورت کي د افغانستان د مبایل شمیره ولیکی.
[3] هغه معلولیتونه چي کیدای شی ستاسي د فزیکی فعالیت ځخه مخه نیسی.
[4] مهربانی وکړی تشریح یی کړی.
[5] مهربانی وکړی هغه درمل چي تاسی یي خوری هم په کي شامل کړی.
[6] مهربانی وکړی د مخکنیو مقالو عکس او لینک هم په کي شامل کړی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| **هغه جزوتام چې تاسي غواړی ورسره ځای په ځای شی** | | | |
| **د ځای په ځای د غوښتنې نیټه** | | **د استقرارموده** | |
| **د اوسنی یا مخکنی استقرارجزییات** | | | |
| **د اړتیا وړ موقعیت** | | | |
| **د رسنی ډول**[7] | | | |
| **شخصی تجهیزات**[8] | | | |
| **آیا د اوسپنې خولی او زره له ځان سره لری؟** | | | |
| **د استقرارموخه (موضوع، زاویه او مرام)** | | | |
| | | | |

مهربانی وکړی دغې پتې ته یی واستوی: ijc.embeds@afghan.swa.army.mil

[7] چاپی، رادیو، تلویزیون، تصویری یا نور (مهربانی وکړی تشریح یی کړی).
[8] مهربانی وکړی د رسنیو اختصاصی تجهیزات او د بکسونو شمیر / وزن تشریح کړی.

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

ISAF کمک او همکاری

<u>۳ ضمیمه: د رسنیو د ثبت پاڼه[9]</u>

| | | | |
|---|---|---|---|
| تخلص: | | | شماره کارت شناسائی: [10] |
| نوم: | | | د پاسپورت شمیره: |
| دنده: | | | تابعیت: |
| د آژانس جزییات (په مشرح ډول): | | | |
| د آژانس پته: | | | |
| سړک او شمیره: | | | پوستی کد: |
| ښار: | | | هیواد: |
| ټیلیفون: | | | فاکس: |
| موبایل: | | | د بریښنالیک پته: |
| د خپلې رسنۍ د فعالیت ډول په نښه کړئ: | چاپي ☐ | راډیو ☐ | تلویزیون ☐ |
| ستاسی د لیدني نیټه: | | | |
| ملاحظات: | | | |
| د دغه راجستر له لارې لاس ته راغلی معلومات یوازې د ناټو او د سولې لپاره د عامه کېدون د اطلاعاتو د موخو لپاره کارول کیږي. | | | |

[9] مهرباني وکړئ هر څومره جزییات چې شوني وي برابر کړئ.
[10] یوازې د دفتر د استعمال لپاره.

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

۴ ضمیمه: د آیساف سیمه اییز قوانین د رسنیو لپاره

د آیساف د ځواکونو او له هغو سره د یوځای شویو رسنیو د مصؤنیت او امنیت د خوندی کولو لپاره به رسنی د سیمی لپاره د لاندنیو جوړو شویو قوانینو پیروی کوي. د سیمی دغو قوانینو باندې به وار دمخه موافقه کیږی او د رسنی له خوا به له یوځای کیدو څخه د مخه لاس لیک کیږي. د سیمی له دغو قوانینو څخه سرغړونه کیدای شی د استقرار دسم دستی ختمیدو، د رسنیو لپاره د آیساف د اعتبارلیک منسوخ کیدلو، او د عملیاتو د سیمې څخه د لیری کیدلو لامل وګرځی. د سیمی دغه قوانین د رسنیو حق پیژنی ترڅو نظامی عملیات تر خپل پوښښ لاندی راولی او په هیڅ ډول یی موخه دا نده ترڅو د زیان رسونکو، شرمونکو، منفی یا ناستایونکو معلوماتو د خپریدو مخه ونیسی. آیساف د معلوماتو د ځانګړیو کتګوریو د خپریدلو مخه نیسی کوم چې دښمن ته ګټور جزییات په لاس ورکوی او د ملکی او نظامی وګړو ژوند په خطر کې اچوی.

له لاندنیو قوانینو څخه سرغړونه کیدای شی د استقرار د ختمیدو لامل وګرځی:

1. یواځی په هغو حالاتو کې چې د ملی پروګرامونو له لاری حمایه شوی وی، په نورو حالاتو کې رسنی د عملیاتو سیمې ته د ننوتو په خاطر د ځان لپاره د پاسپورت او ویزی د لاس ته راوړلو مسؤلیت لری. مونږ سپارښتنه کوو ترڅو افغانستان ته د ملکی هوایی کرښو له لاری راشی ترڅو د رسیدو سره سم پر پاسپورت مناسبه ټاپه ووهل شی. له افغانستان څخه وتل به د دخول د ټاپې پرته شاته واچول شی. رسنی په کلکه هڅول کیږی ترڅو له جزوتامونو سره د یوځای کیدو څخه د مخه د سیمې یا هیواد لپاره د ناروغیو د کنټرول مرکز د سپارښتونو پر بینست په مناسب ډول صحی معافیت لاس ته راوړی.
2. مستقرې رسنی باید خپل د رسنیو اعتبارلیک د ځان د لیدو وړ ځای کې ټول وخت راوزړوی.
3. مستقرې رسنی به هر ډول ممنوع الورود سیمو ته د نظامی ملګرتیا یا بدرګې پرته نه ننوزی.
4. مستقرې رسنی د شخصی محافظوی وسایلو د تدارک / استعمال مسؤلیت لری، چې په هغه کې حداقل په نظامی سویه یو د اوسپنې خولی او زره شامله ده. کالی او تجهیزات به د رنګ او بنې له نظره ستر او اخفا شی، ولی په غیرنظامی بڼه.
5. مستقرې رسنی د خپلو شخصی او مسلکی تجهیزاتو، د مسلکی تجهیزاتو د ساتلو لپاره د محافظوی بکسونه، بطریو، کیبلونه، کانورترونه، شخصی محافظوی تجهیزاتو او نورو په ګډون مسؤلیت لری. د رسنیو هر استازی د خپلو تجهیزاتو د انتقال مسؤلیت لری.
6. کله چې رسنی د ناتو د قوماندانی لاندی جزوتامونو څخه ځای لاس ته راوړی، دغه رسنی به د اړونده نظامی ملیت د سلوکو د مقررې سره سم چلند کوی ( دمثال په ډول، د الکولو نه څښل، د جګړې د غنایمو اخیستل، او نور).
7. د نظامی خدماتو له کارکونکو سره ټولې مصاحبې به ثبت وی. د معلومات د امنیت مسؤلیت به د خدماتو د کارکونکی کوم چې ورسره مصاحبه کیږی وی؛ که څه هم نظامی کارکونکی باید د رسنی له خوا خبر شی چې دی د مصاحبی په حالت کې دی. د خدماتو کارکونکی به همیشه دا حق ولری چې د مصاحبې څخه انکار وکړی، له نظامی کارکونکی سره مصاحبې به د ماموریت د بشپړیدو سره سم اجازه ولری؛ که څه هم د معلوماتو خپریدل باید د رسنیو د دغو سیمه اییزو قوانینو سره سمون ولری.
8. له رسنیو څخه دغه تمه کیږی چې د فعالیتونو او تحرکاتو اړوند هدایاتو څخه پیروی وکړي.

9. د رسنیو استازی، حمایوی کارکونکی، پرودیوسران یا د شخصی ساتنې ټیمونه به د استقرار پر مهال وسله نه انتقالوی.
10. پر محصولاتو به کوم چې د مستقرو رسنیو لپاره برابریږی د سیمه ایزو قوانینو سره سم نیټه وهل کیږي.
11. د لید وړ د روښنایی منابع او د سره نه ښکته وسایل (infra red) د تلویزیون یا چراغ د رڼا په شمول به له سرتیریو سره د شپې له خوا د عملیاتو پر مهال نه کارول کیږي، تر هغه چې په ځانګړې توګه مخکې له مخکې د جګړې د ډګر د قوماندان په واسطه منل شوې وی. همدارنګه رسنی به تکتیکی تحرکات او د غږ دسپلین د عملیاتو د پوښښ پر مهال تعقیبوی.
12. مؤقتی بندیزونه به د عملیاتي امنیت د ساتنې لپاره لګول کیږي. دا بندیزونه به هرکله چې د عملیاتي امنیت موضوع تیره شی سمدلاسه پورته کیږي.
13. د اړیکو د نیولو د تجهیزاتو (لکه مبایل ټیلیفون) به په ځانګړې توګه مخه نه نیول کیږي. که څه هم د جزوتام قوماندان کیدای شی په برقی رادیویی څپو د عملیاتي امنیت د دلایلو له کبله او څرنګه چې د تهدید ارزونه یا امنیتی وضعیت حکم کوی مؤقتی بندیزونه ولګوی.
14. رسنیو څخه تمه کیږي چې د محصول د ټولولو په اړوند په خپل ځان متکی وی. په بعضی مواردو کې رسنی کیدای شی دا اجازه ولری ترڅو خپلې کیسې/رپوټونه د اړیکو د نظامي سیسټم په واسطه کوم چې د ملي قواعدو او د لاس رسی وړ سیسټم د محدودیتونو تابع دی جوړې کړی. رسنی به دا اجازه ونلری ترڅو شخصی کمپیوټرونه یا فلشونه له نظامی شبکې سره ونښلوی او باید دا ظرفیت ولری ترڅو یې په سی ډی/ډی وی ډی باندې کاپی کړی. دا باید په پام کې ونیول شی چې د انټرنټ د سرعت محدودیتونه کیدای شی دا ظرفیت محدود کړی ترڅو ویډیو او غټ فایلونه تنظیم او ترتیب شی.
15. که چیرې د جزوتام د قوماندان په هاند د رسنی استازی دا توان ونلری ترڅو له فزیکي، رواني، دماغي، یا احساساتو له نظره له هغو شرایطو سره مقابله وکړی کوم چې د لیږل شویو ځواکونو سره په عملیاتو کې اړتیا ورته لیدل کیږي، قوماندان یا د هغه استازی کولای شی د رسنی د استازی ګډون محدود کړی ترڅو د خبررسونکی او جزوتام د مصؤنیت څخه ډاډ ترلاسه شی. بحثونه باید د عامه چارو د دفتر له لارې رامنځ ته شی. د عامه چارو د دفتر ټولنه به د یوه صادق منځګړی په توګه کار کوی خو آخری تصمیم د رسنیو د استقرارپه هکله د قوماندان په واسطه نیول کیږي.
16. د ناتو ځواکونه به هرې رسنی ته کوم چې د ناتو د جزوتام سره د ناتو یا ملی قواعدو سره په مطابقت کې یوځای مستقر وی د ټپی کیدو پر مهال د لاس رسی وړ ظرفیتونو په محدوده کې به عاجله طبی مرسته برابره وی.
17. که چیرې د رسنی استازی د نظامی عملیاتو په دوره کې ټپی یا وژل کیږي، ناتو به د رسنی آژانس ته د هغو هدایاتو سره سم چې د استقرارپه غوښتنه کې شتون لری خبرتیا ورکوی. دا مهمه ده چې د رسنی استازي په واضحه توګه ستاسي د غوښتنو په اړوند د دغه ډول احتمالی پیښو په هکله بحث وکړی. د رسنی آژانس به د نورو اقاربو د خبرولو مسؤلیت ولری. د رسنیو د استازو خپل هیواد ته بیرته ستنول به کوم چې وژل یا ټپی شوی دی د هغو رسنیو مسؤلیت دی کوم چې ژورنالیست یې په دنده ګمارل دی. هغه رسنی چې آزاد ژورنالیستان په دنده ګماری باید دغه مسؤلیت ته ځانګړی پاملرنه وکړی.
18. لاندې شیان به د سیمې د عامه چارو د آمر (CPAO) او د سیمې د قوماندان له ښکاره منظوری پرته په بصری توګه نه ثبت کیږی:

أ) ممنوعه نظامی سیمې، تسلیحات یا تاسیسات، لکه عملیاتی مراکز او د جګړی د ډګر د توقیف ځایونه او د جزوتام د نیوني تاسیسات.

ب) د نقشو عکسونه، د کشافي وسایل، د اړیکو د نیولو تجهیزات یا د اینودل شویو چاودیدونکو توکو ضد تجهیزات/د جګړې برقی تجهیزات. په تکتیکی وسایطو کې باید پاملرنه وشی ترڅو ډاډ ترلاسه شی چې د حساسو تجهیزاتو دغه کتګوری نه مستنده کیږي.

ج) محرم سیستمونه، محرم تجهیزات یا د هغوی د ظرفیتونه ښودنه.

د) هر هغه هوایی ډګر د عملیاتو په سیمه کې او نظامی الوتکه چې په همدغه هوایی ډګر یا هغه ته څیرمه عملیات کوی. رسنی به د هوایی ډګر په تشریفاتی مراسمو کې د سیمې له قوانینو څخه لکه څنګه چې د هرو مراسمو څخه دمخه ورته معلومات ورکول کیږی پیروی کوی.

19. لاندنی معلومات د خپرولو وړ ندی:

أ) ځانګړی معلومات د سرتیریو د قوت او ظرفیتونه، تجهیزاتو یا مهمو تدارکاتو په هکله (د مثال په ډول توپچی، رادار، لاری موټر، اوبه او داسی نور).

ب) د الوتکو مشخصه شمیره په جزوتام کې د هوایی قوماندانی تر سطحې لاندې، یا د ماموریت د مشخصې الوتکې د پرواز د سرچینې د نقطو پیژندنه؛ داسې بیانوی چې «د ځمکې څخه یا د الوتکو انتقالونکې بیړی څخه» د سرچینې د نقطې په توګه د منلو وړ ده. د الوتکو شمیر او ډول کیدای شی په ډیره عمومې اصطلاح سره تشریح شی لکه «غټه الوتنه»، «کوچنی الوتنه»، «ډیر»، «لږ»، «جنګی الوتکې»، «بال ثابت الوتکې»، او داسی نور.

ج) د عملیاتو د سیمې جزوتامونه، ترهغه چې په ځانګړې توګه د جزوتام د عامه چارو دفتر په کاری قوه کې، سیمه اییزې قوماندانی، یا د آیساف د مشترکې قوماندانی کچه په کوم کې چې د رسنی ځای په ځای کیدل صورت مومی اجازه نه وی ورکړی.

د) د راتلونکو، جاری، شاته اچول شویو یا کنسل شویو عملیاتو، مګر دا چې د عامه چارو د آمر پواسطه بل ډول هدایت ورکړل شوی وی.

ه) د عملیاتو پر مهال د دوستو ځواکونو د سرتیریو د تحرکاتو په هکله ځانګړی معلومات، تکتیکی لیږدونې، او داسې حالات چې عملیاتی امنیت یا ژوند په خطر کې اچوی. د جاری جګړی په هکله به معلومات خپاره نشی ترڅو د جګړې د قوماندان په واسطه اجازه ورنکړل شی.

و) هغه تصویرونه چې په نظامی تاسیساتو یا قرارګاو کې د امنیت کچه ښیي، په ځانګړې توګه هوایی او د ستلایت تصویرونه چې د نظامی جزوتامونو یا تاسیساتو ځانګړی موقعیت یا نوم څرګندوی.

ز) د نظامی تاسیساتو نومونه یا د نظامی جزوتامونو ځانګړی جغرافیوی موقعیتونه د عملیاتو په سیمه کې، ترهغه چې په مشخصه توګه د آیساف له خوا خپاره شی یا د آیساف د مشترکې قوماندانی د عامه چارو له خوا یې اجازه ورکړل شی. خبرونه او تصویری محصولات چې د دغو موقعیتونو بیلونکې علامې راپیژنی د خپرولو اجازه نلری.

ح) د ښتو د قواعدو جزییات یا د ځواک د کارولو اقدامات یا هغه د ځواکونو د ساتنې د اقداماتو په هکله معلومات په شمول د هغو چې په نظامی تاسیساتو یا قرارګاو کې شتون لری خو په دی پورې محدود ندی، بې له هغو چې د لیدو وړ دی یا په آسانی سره څرګند دی.

ط) د استخباراتی معلوماتو د ټولونکو فعالیتونو په هکله معلومات د موخو، د یرغل میتودونو او پایلو په شمول.

ي) د یوه عملیات په پیل کې په راپور ورکولو کې ډیر احتیاط ته اړتیا شته ترڅو عملیاتی حیرانتیا خپل اعظمی حد ته ورسیږی. نو لدی کبله د مستقرو رسنیو په واسطه له هوایی ډګرونو څخه ژوندی خپرونې منع دی ترهغه چې د جزوتام قوماندان یې اجازه ورکړی.

ك) د ورک پرسونل یا حساسو تجهیزاتو یا لویدلی الوتکي په هکله معلومات په داسي حال کي چي د پلټني او ژغورني او پیداکولو عملیاتو لپاره پلان جوړونه کیږي او په لاره اچول کیږی ترهغه چي په ښکاره ټوګه یی د عامه چارو د کارکونکو له خوا اجازه ورکړل شی.

ل) د دښمن د محاربوی برقی وسایلو د اغیزمنتوب په هکله معلومات.

م) د دوستو ځواکونو د محاربوی برقی وسایلو یا طرزالعملونو یا د ایښودل شویو چاودیدونکو توکو پر ضد د دوستو ځواکونو د فعالیتونو په هکله معلومات کوم چي کیدای شی دښمن تکتیکی ګټه له ځان سره ولری.

ن) د دښمن د ستراو اخفا د اغیزمنتوب، دوکه ورکوني، هدف نیوني، مستقیم او غیر مستقیم انداخت، استخباراتی راټولوني یا امنیتی اقداماتو په هکله معلومات.

س) د بندیانو ټول عکسونه یا د هغوی انتقال به د دوی د حقوق د احترام ساتلو سره یو ځای وی، او بندی به د عوامو له کنجکاوی څخه د جینوا د دریم میثاق دیارلسمي مادې سره سم وساتی. هیڅ ډول عکس یا نور بصری وسایل به چي د بندی شخص مخ، د نوم لیبل، یا نور پیژندونکی خصوصیات یا شیان ښیي باید وانه اخیستل شی.

ع) ځای په ځای شوې رسنی به له بندیانو سره مصاحبه یا په مستقیم ډول خبري اترې نکوی.

ف) مستقرې رسنی به د خاصو عملیاتو له ځواکونو یا پرسونل سره د ناتو د خاصو عملیاتو د ځواکونو د قوماندانی د استازی او د آیساف د قوماندان د منظوری پرته مصاحبه، د هغوی څخه عکس اخیستنه، فلم اخیستنه یا راپور جوړونه نکوی او همدارنګه د هغوی د عملیاتو څخه چي دوی یي اجرا کوی یا برخه په کي اخلی هم عکس او فلم اخیستنه او راپور جوړونه نکوی.

ص) هر هغه معلومات چي کله نا کله د آیساف د قوماندان له خوا د عملیاتی اړتیاو له کبله محدود وی.

20. لاندنی معلومات د خپرولو وړ دی:

أ) غیر حساس، غیرمحرم معلومات د هوایی او ځمکنیو تیرو او اوسنیو عملیاتو په اړه.

ب) د دوستو ځواکونو اندازه کوم چي په یوه جګړه یا عملیاتو کي ګډون کوی کیدای شی د عامو اصطلاحاتو څخه په استفادې لکه «څو جزوتامه» وښودل شی. د ځواک یا جزوتام خاصه پیژندنه کیدای شی د آیساف د قوماندان یا د هغه د استازی په اجازه خپره شی.

ج) د بشپړ شوی ماموریت او جګړې نیټه، وخت یا موقعیت او همدارنګه د ماموریت پایلې.

د) د استعمال شویو وسلو ډولونه په عامو اصطلاحاتو سره (لکه مزاییل).

ه) د هوایی محاربو یا کشفی ماموریتونو یا هغو الوتونو شمیر چي د عملیاتو په سیمه کي شوې دی.

و) د ځواک هغه ډول چي په جګړه کي شامل دی (مثال، هوایی مدافعه، پیاده، زغره وال) د خاصو عملیاتو د ځواکونو او ګډون کوونکو ملیتونو په استثنا.

ز) د دښمن د بندیانو یا توقیف شوی پرسونل تایید شوی ارقام.

ح) د نظامی موخو او مقاصدو په اړه معلومات چې پخوا د یرغل لاندی راغلی وو.
ط) د تیرو جګړو او نظامی معمولی ماموریت نیټه، وخت یا موقعیت، همدارنګه د ماموریت پایلي یواځې په هغه حالت کې د خپریدو وړ دی چې په عامو اصطلاحاتو سره تشریح شی.
ي) د آیساف د نظامی جزوتامونو نومونه او هیوادونه.
ك) د نظامی خدمت د کارکونکو نومونه او هیوادونه د کارکونکی په رضایت.
ل) د افغانستان اسلامی جمهوریت د حکومت په واسطه د منظور شوې رسنی پوښښ له خوشی شوی بندی څخه وروسته له هغه چې بندی خوشی شي یا د افغانستان اسلامی جمهوریت حکومت ته ور تسلیم شي.
م) د دوستو ځواکونو د تلفاتو تقریبی ارقام. مستقرې رسنی د عملیاتی امنیت د محدودیتونو په دایره کې کولای شی د جزوتام تلفات کوم چې دوی پر هغو شاهدان دی تصدیق کړي.

21. که چیرې د کوربه جزوتام د عامه چارو د افسر یا قوماندان په واسطه بل ډول مشوره ورکړل شوی وي، په نورو حالاتو کې لاندې کړنلارې او پالیسي د ټپی او ناروغ پرسونل په هکله د اجرا وړ دی.

أ) ځای په ځای شوې رسنی به د وژل شویو یا ټپی سرتیریو د نومونو او پیژندنې خپریدنه په هکله د ملی پالیسیو درناوی ساتی؛ ملی پالیسي توپیر لری او د دغه سند له محدودې څخه بهر دی. هغه رسنی چې د ایتلافي ځواکونو د نظامی خدماتو د کارکونکو د وژني یا ټپي کیدو شاهده وی د هغوی پیژندنه به تر هغه پورې د ویدیو، عکس، تحریري یا شفاهي توضیح له لارې ښکاره نکړی ترڅو چې د هغوی په هیواد کې د هغوی خپلوان خبر شوی نه وي. د نظامی خدماتو کارکونکی به د رسنیو استازي د تلفاتو له ښودولو یا فلم اخیستلو څخه نه منع کوی. د ژوبل شوی شخص عکسونه به کوم چې د پیژندنې وړ مخ، د نوم لیبل یا نور پیژندنکی علایم ښيي استعمال نشي، په استثنا د هغو حالاتو چې د لاندې (i) – (v) کې ذکر شوی دي. رسنی باید له عامه چارو سره د خپرولو د مشورې لپاره اړیکې ونیسی.
ب) رسنی به د تلفاتو له پوښښ څخه د لاندې شرایطو په پوره کولو سره منع نشی:

1) د نظامی خدماتو د کارکونکی د مخکنی لیکلی رضایت څخه پرته به د هغه نوم، ویدیو، د پیژندلو وړ تحریری/شفاهی تشریحات یا د نظامی خدماتو د ټپی شویو کارکونکو د پیژندلو وړ عکسونه به خپاره نشي. که چیرې نظامی کارکونکی د ټپونو له امله مړ شي وروسته له هغه به هغه د اقاربو په هکله کوم قوانین چې شتون لری د اجرا وړ دی.
2) د رسنی کتنه له طبی تاسیساتو څخه جواز لری او د ملی اجرا وړ قوانینو، معیاری عملیاتي کړنلارو، عملیاتی اوامرو او د معالج ډاکټر د هدایاتو سره سم به اجرا کیږي. که چیرې د رسنی کتنه منظور شی نو نظامی کارکونکي یا د طبی تاسیساتو پرسونل باید له هغې سره د کتنې پر مهال همیش مل وی.
3) د ناروغ خوښی، محرمیت، او د هغه د اقاربو/کورنۍ ملاحظات د خبری رسنیو په هکله هغه حاکم تشویشونه دی کوم چې ټپیان او ناروغ پرسونل د درملنې په طبی تاسیساتو کې یا نورو د ټپیانو د راټولولو او درملنې موقعیتونو کې تر پوښښ لاندې راولی.
4) د ناروغ سره د مصاحبې یا د هغه د عکس اخیستنې اجازه به یواځې د معالج ډاکټر په رضایت یا د روغتون د قوماندان او د ناروغ د ښکاره، آګاهانه رضایت چې مل کس یې شاهد وی ورکول کیږي. «آګاهانه رضایت» دا معنی لری چې ناروغ پدې پوهیږی چې د هغه عکس او یا تشریحات د خبري رسنیو د موخو لپاره تولیږی او کیدای شی د خبري رسنیو په راپورنو کې رابنکاره شی.

5) مستقرې رسنۍ به د هغه پرسونل د پیژندنې په هکله کوم چې مخالف ځواکونه وژني یا ټپي کوی د آیساف د قوماندان د مخکنی منظوری پرته رپوټ نه جوړوي.

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

**د رسنیو د استقرار او د سیمې د قوانینو په هکله موافقه**

زه (ولیکی) ________________________________ ، تصدیقوم چې لاندې معلومات صحت لری:

أ) «زه د داسې فزیکي یا صحی وضعیت څخه خبر نه یم چې زما ګډون به په شدیدو فعالیتونو کې په منفی توګه اغیزمن کړی.» __________ (د نامه اول حروف) *

ب) «ما د رسنیو سیمه اییز قوانین کوم چې ماته د آیساف د عامه چارو د کارکونکو له خوا راکړل شوی وو ولوستل او په خپل لاس لیک سره زه موافقه کوم چې له هغو څخه به پیروی کوم. همدارنګه زه پوهیږم چې د دغو سیمه اییزو قوانینو څخه سرغړونه به له آیساف سره زما د استقرار د حالت د فسخه کولو لامل وګرځی»
______________ (د نامه اول حروف)

ج) «زه پوهیږم چې د کوربه قوماندانی په واسطه زما د استقرار د حالت د فسخه کولو په صورت کې، زما د استقرار نهایی پریکړه به د آیساف د مشترکي قوماندانی د عامه چارو د آمر په واسطه نیول کیږی.»
______________ (د نامه اول حروف)

______________________ لاس لیک

______________________ نیټه

**د سترګې (IRIS) سکن اجرا شو**

______________ وخت

______________ نیټه

______________________ لاس لیک – د آیساف شاهد، نوم، رتبه

______________________ نیټه

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

د آیساف د تاوان ورکولو موافقه او د تاوان ابراء لیک

1. زه، __________ (نوم ولیکی)، له خپله اړخه، زما د وارثانو، وصیانو، او سرپرستانو له اړخه د دغې اجازې د ورکولو په پام کې نیولو سره ترڅو د مستقرې رسنۍ په توګه د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیواله ځواکونو (آیساف) سره د __________ څخه تر __200، __________ پورې په __________ او د هغه په شاوخوا سیمه کې راجستر شم.

2. دا تصدیقوم او موافقه کوم چې د جګړې او نورو نظامی عملیاتو تر پوښښ لاندې راوستل ذاتاً خطرناکه دی او کیدای شی د مرګ، فزیکی یا بل ډول ټپي کیدو، یا مالي زیان پایله له ځان سره ولری، او په هر صورت کې دا غواړم ترڅو جګړې یا نورو نظامی عملیاتو تر پوښښ لاندې راوستلو کې ګډون وکړم، دواطلبانه رضایت ښکاره کوم ترڅو ګډون پکې وکړم او هر خطر چې له دغه ګډون سره به یوځای وی پر غاړه اخلم.

3. دا تصدیقوم، موافقه کوم او دا څرګندوم چې ماته د جګړې او نورو نظامی عملیاتو د پوښښ لاندې راوستلو د ماهیت په هکله سلا او مشوره راکړل شوې ده، همدارنګه د اجرا وړ کړنلارو او مصؤنیت د اقداماتو سلا او مشوره راکړل شوې ده او دا چې زه موافقه کوم چې له هغو څخه به پیروی کوم.

4. دا تصدیقوم، موافقه کوم او دا څرګندوم چې ماته دا سلا او مشوره راکړل شوې ده چې آیساف به د خپل بریالي ماموریت د سرته رسوني په تعقیب زما شخصی مصؤنیت یا زما د تجهیزاتو مصؤنیت نشی تضیمنولی.

5. له ټولو دعواو څخه چې په هر ماهیت یا ډول وی ډه ډه کوم. د ناتو، د متحدو عملیاتو قوماندانی، د اروپایی ځواکونو متحدو لوړپوړو قوماندانیو، آیساف، د هغو سرتیریو د حکومتونو او نظامی څانګو چې د آیساف د ماموریت ملاتړ کوی، د نوموړو ادارو د نظامی پرسونل او ملکی کارکونکو د هغو قراردادیانو په شمول چې د آیساف د ماموریت د ملاتړ لپاره ګمارل شوی دی، د دوی ټولو پر ضد د هر ډول شخصـی ټپی کیدو یا مالي زیان لپاره دعوا چې زما له ګډون څخه د جګړې او نورو نظامي عملیاتو د پوښښ لاندې راوستلو پر مهال د یوې مستقرې رسنۍ په توګه منځ ته راغلی وی یا زما د ګډون پر بنسټ، د هغه له امله، له هغه سره منتسب یا له هغه سره تړلی وی ډه ډه کوم. دا یواځې په ټپی کیدو او مالي زیان پورې تړلې نده.

أ) زه موافقه کوم چې زه به د هیڅ یو کس پر ضد هیڅ ډول عمل یا د محکمې جریان د بسپنې یا تاوان اخیستلو لپاره نه پیل کوم یا هغه ته به دوام نه ورکوم کوم چې د ناتو، د متحدو عملیاتو قوماندانی، د اروپایی ځواکونو متحدو لوړپوړو قوماندانیو، آیساف، د هغو سرتیریو د حکومتونو او نظامی څانګو چې د آیساف د ماموریت ملاتړ کوی، د نوموړو ادارو د نظامی پرسونل او ملکی کارکونکو د هغو قراردادیانو په شمول چې د آیساف د ماموریت د ملاتړ لپاره ګمارل شوی دی پر ضد د دعوا لامل ګرځې.

ب) دا تصدیقوم، موافقه کوم او دا څرګندوم چې زما په واسطه د دغه تړون لاس لیک کول د ثبت کیدو لپاره یو شرط دی ترڅو د آیساف عملیات تر پوښښ لاندې راولم او د دغه پوښښ لپاره مرسته لاس ته راوړم؛ او

د تاوان ابراء لیک، د ۲ مخ څخه ۱ مخ __________ (د رسنیو د استازی د نامه لمړی ټکی)

ج) دا تصدیقوم چې د تاوان ورکولو دغه ابراء لیک مې په بشپړ ډول ولوست او پوهیږم چې دغه ابراء لیک پراخ او هر اړخیزه دی ترڅو د هر ډول دعوا مخه ونیسی، زه په داوطلبانه ډول خپل رضایت د دغه سند په هکله د خپل لاس لیک په واسطه ښکاره کوم.

نیټه د آیساف په مشترکه قوماندانی، د کابل نړیوال هوایي ډګر شمال لوری کې، د __20، د _____ ورځ _______

| د رسنیو د استازی اداره: | د آیساف د غړی – شاهد لاس لیک: |
|---|---|
| (نوم) | (نوم) |
| (پته) | (رتبه، قطعه/اداره)<br><br>دفتر ارتباط عامه/ فرماندهی مشترک آیساف |
| (ټیلیفون) | (ټیلیفون)<br>+93 0799513999، بیا 688-4209 یا 4218 |
| (موبائیل) | (موبائیل)<br>+93 0794013643 |
| (د بریښنا لیک پته) | (د بریښنا لیک پته)<br>IJC.EMBEDS@afghan.swa.army.mil |

________________________ ________________________

د رسنۍ د استازی لاس لیک نیټه

# د افغانستان لپاره د امنیت مرستندویه نړیوال ځواکونه

<u>۷ ضمیمه: د رسنیو د تجهیز چک لست (رهنمود)</u>

1. افغانستان ته له رسیدو سره سم ټولي رسنۍ باید داډ ترلاسه کړی چي لاندې شیان دوی سره شتون لری:
   - د مرمی ضد ساتونکی واسکټ او د اوسپني خولی (دغه شیان **اړین** دی – هر ژورنالیست چي بې له دغو تجهیزاتو څخه را رسیږي اجازه به ورنکړل شی چي په کابل او د عملیاتي سیمې په شا او خوا کې د آیساف په ترانسپورتی سیستم کي سفر وکړی).
2. د استقرار د مودې لپاره د لاندی شیانو سپارښتنه کیږي:
   - د سترګو ساتونکی (ساتونکی یا د ماتیدو ضد عینکی)
   - د استقرار پر مهال د بهر سیمي مناسب تجهیزات د هوا د حالاتو لپاره
     - ځیني غرنی سیمی په آسانی سره د فارنهایت ۵۰ درجي توپیر لری
     - دغه انترنتی پته کولای شوی تاسي سره ستاسي په پلان جوړونه کي مرسته وکړی:

http://www.theweathernetwork.com/weather/intcitiesintl_en/

   - چړیکی بستره
   - د بهر سیمي چانته / د شا چانته
     - د کالیو بکسونه یا هغه بکسونه چي په آسانی سره د جګړې سیمي ته نشي وړل کیدای مه راوړی
     - له ټولو رسنیو څخه دا تمه کیږی چي خپل تجهیزات پخپله انتقال کړی
   - د اوبه پتک، د اوبه بوتل د هایدریشن سیستم
     - دا باید شتون ولری، حتی د ژمی په میاشتو کي
     - تصفیه اړینه نده؛ ډیری کمپونه بوتلی اوبه لری، خو لری پراته کمپونه د څښلو د اوبو یوه مشترکه منبع لری
   - مناسب کالی
     - داسي کالی چي د پیاده تګ لپاره وی راوړی او دا چي په آسانی سره استر تري لری یا ورواچول شی. د اوسیدو لپاره کافی اندازه کالی راوړی او دا تمه مه کوی چي هغه شی چي تاسي اړتیا ورته لری د اوسیدو پر مهال یی د اخیستلو توان ولری.
     - **نظامی دوله کالی/یونیفورم (مکمل یا ټوټه) جواز نلری.**

دا ستاسي د مصؤنیت لپاره دی، د یونیفورم اغوستنه تاسي د یوه نظامی کارکونکی په توګه څرګندوی چي ستاسي تشخیصول د یوه غیرمحارب په توګه ستونزمن کوی.

   - د اوبو ضد بوټ
     - تاسي د پیاده تګ لپاره خپلو بوټانو ته اړتیا لری. بوټ باید راحت وی او د غرنیو حالاتو لپاره باید کلک وی.
   - باراني کالی
     - سپارښتنه کیږي چي د بارانی هوا لپاره سر تر پایه خپل تجهیزات راوړی
   - د سړې هوا تجهیزات

- د ژمی د میاشتو پر مهال د تودخي درجه له کنګل څخه ښکته لویږی (اکتوبر – اپریل)

- چراغ (یا د سر چراغ) له سور رنګه عدسیو او اضافی بطریو سره
- د رپوټ ورکولو اړین تجهیزات
- شخصی صحی او د روغتیا ساتني ضروریات
    - د طبی لمړنیو مرستو د یوې وړې بستې د راوړلو سپارښتنه کیږی
    - د حشراتو په څټ کوونکی
    - د لمر ضد کریم
    - د شونډو ملهم
    - د شاور پایزار/څپلکې او ځان پاک
- د کالیو وینځلو خلطه
- په ګټو عملیاتی قرارګاو کې د کالیو وینځلو تاسیسات شتون لری خو په کوچنیو عملیاتی قرارګاو کې د لاس رسی وړ د کالیو وینځلو تاسیسات شتون نلری.
- د غوږ ساتونکی (د غوږ پټونکی)
- د برق بدلونکی ترڅو د ۱۱۰ او ۲۲۰ ولټه ساکټونو څخه د اړتیا په صورت کې کار واخیستلی شی.

3. مهرباني وکړی دا چې تاسي چیرې روان یی او د کال موسم په پام کې ونیسی.
- د ژمی میاشتي کیدای شی د شپې له خوا په بې ساری توګه سړې او د ورځې له خوا معتدل څخه نیولې تر بې ساری سړوالی پورې ورسیږي. هر څومره چې سیمه غرنی وی احتمالاً هم دومره به سړه هم وی.
- پسرلی په ساړه او نمجن حالت پیل او په ګرم او نمجن حالت ختمیږی.
- د اوړی میاشتي د شپې او ورځې له خوا تودې، له دوړو ډکې او وچې وې.
- منی تر پایه پورې سوړ او وچ وی تر هغه چې په غرو کې د واورې وربښت پیل شی او د تودخې درجه په تیزی سره رالویږي.

4. انعکاسی (شب بین) کمربند کیدای شی په ځینو تاسیساتو کې اړین وی.
5. خپل د ویني ګروپ باید وپیژنی. سپاربښتنه کیږی چې د رسنیو استازي طبی لیبلونه چې د وینې ګروپ، حساسیتونه او هر له مخکې څخه موجود طبی حالات چې کیدای تاسې یې ولری تشریح کړی.
- په کلکه سپاربښتنه کیږي چې تاسي د لاندې ناروغیو لپاره واکسین شوی اوسی:

ستندرد واکسینونه: دیفتری، شری، کله چرک، شنه ټوخلې، فلج، ربیلا، تیتانوس، H1N1 انفلونزا د A ډول

اضافي واکسینونه: د محرقي تبه، هیپاتیت A، هیپاتیت B، مینګوکوکال مینژیت تتراوالانت، انفلونزا

6. ژورنالیستانو ته په کلکه سپاربښتنه کیږي چې په سخت او دښمنانه چاپیریال کې تجربه او روزنه لاس ته راوړی او د داسې شرایطو لپاره په مناسب ډول مجهز او ملبس راشی.
7. ټول هغه ژورنالیستان چې کتنې ته راځی باید ډاډ ترلاسه کړی چې دوی د سفر او تجهیزاتو کافی بیمه لری، او باید د صحي بیمې ثبوت وړاندې کړی. آیساف بیمه نه برابروي.